# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت

د ۲۰۲۳ کال اکتوبر – ډسمبر میاشتو تازه راپور

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه راپور د ۲۰۲۳ کال[۱] له اکتوبر څخه تر ډسمبر پورې موده رانغاړي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا یوناما ته له ورکړل شوي ماموریت سره سم، د نوموړې ادارې د بشري حقونو د څانګې له خوا د ترسره شوي نظارت پر بنسټ ولاړ دي.[۲]

## د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی

د ډسمبر پر ۱۴ نېټه، یوناما "د اجراآتو انحراف: د برحاله چارواکو له خوا د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته رسیدګي کول" تر عنوان لاندې خپل وروستی موضوعي راپور خپور کړ. راپور د هغو مرکو پایله ده چې د یوناما له خوا د څلورو ښځو په ګډون له برحاله ۷۱ منسوبینو، د ۳۰ ښځو په ګډون د مدني ټولنې له ۸۷ فعالینو سره ترسره شوې. یوناما د اخلاقي او محافظتي ملاحظاتو له امله له قربانیانو سره مرکې نه دي ترسره کړې.

یوناما موندلې چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د شکایتونو په اړه، څرګند د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ نشته، په ګډون دبرحاله قضایي اداري چې د عدلي تسلسل په اوږدو کې د دغه ډول شکایتونو په اړه د هر عمل مسؤوله ده. د راپورونو له مخې زیاتره قربانیانو له برحاله چارواکو د ویرې له امله د شخړو د حل دودیزو میکانیزمونو له لارې د حل پلټلو ته ترجیح ورکړې.[۳] کوم شکایتونه چې برحاله د قانون د تطبیق او عدلي بنستونو ته راجع شوي، زیاترو هغو ته بې د نارینه وو له خوا رسیدګي شوې. داسې برېښي چې برحاله پولیس، محکمې او عدلیې ریاستونه د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته د برحاله محکمو له لارې د عدلي تعقیب او محاکمې پر ځای منځګړیتوب ته لومړیتوب ورکوي.[۴]

## د ښځو او نجونو حقونه

برحاله چارواکو د ښځو د کار، زده کړې او تګ راتګ د ازادۍ په اړه د محدودیتونو پلي کول او اعلانول جاري ساتلي. په ځانګړي ډول برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او ولایتي ریاستونو یې د حجاب، محرم او نورو هغو شرایطو په تطبیق کې چې عامه ځایونو، دفترونو او ښوونیزو ادارو ته د ښځو پر تګ تحمیل شوي، او دغه راز د چیک پاینټونو په جوړولو او د رعایتولو په نظارت کولو کې دخیل دي. د مثال په ډول د ډسمبر پر ۲۶ نېټه په کندهار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست مسولینو د بسونو تم ځای څخه لیدنه ترسره کړه څو ډاډ تر لاسه کړي چې ښځې له محرم پرته د اوږد واټن سفر نه کوي او بسونو چلوونکو ته یې لارښوونه وکړه چې هغوي اجازه نه لري چې له محرم پرته ښځې په بس کې سپرې کړي.
یوناما د اکتوبر او ډسمبر ترمنځ داسې موارد ثبت شوي چیرې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست مسولینو، ښځې معمولا له دې امله له کار کولو یا د چوپړتیاوو په ترلاسه کولو کی د ستونزې سره مخ کړي چې هغوي متاهلې نه وې یا یې محرم نه درلود. د مثال په ډول، د اکتوبر پر لومړۍ نېټه، درې ښځینه روغتیایي کارمندانې له دې امله بندي شوې چې هغوی له محرم پرته کار ته تلې. دغه ښځې له هغې وروسته خوشې شوې کله چې یې کورنیو لیکلی تضمین لاسلیک کړ چې دغه کار به بیا نه تکراروي.[۵] د ډسمبر د ۲ نیټې را په دی خوا، پکتیا ولایت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست مسولینو هغه ښځې چې محرم ورسره نه وو روغتیایی مرکزونو ته د لاسرسي څخه منع کړې.

[۱] په دغه تازه راپور کې ټولې مشخصې شوې نېټې ۲۰۲۳ ته منسوب دي، مګر دا چې په بل ډول مشخصې شوې وي.
[۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پریکړه لیک، د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پریکړه له خوا تمدید شوی.
[۳] د مدني ټولنې ۳۹ فعالینو سره د مرکو پر بنسټ.
[۴] د جنسیت پر بنسټ د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو په حل کې د منځګړیتوب کارونه، افغانستان کې واک ته د برحاله چارواکو تر رسیدنې مخکې هم یوه اندېښنه ګڼل کېده. د مثال په ډول وګورئ د یوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر راپور، د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره د عدالت په لټه کې، ۲۰۲۰ کال ډسمبر، ۱۱ مخ. دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.ohchr.org/sites/default/files/Documents/Countries/AF/UNAMA_OHCHR_Violence_Women.pdf
[۵] موقعیت د محافظتي دلایلو له امله پټ ساتل شوی.

د رعایت دپاره یې په یاد ولایت کې برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې جارې ساتلې دي. اکتوبر پر ۲۲ نېټه برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست په ننګرهار ولایت کې، شا و خوا ۴۰۰ ښځې د جانغوزیو د پروسس په یوې فابریکه کې له کار کولو منع شوې پداسې حال کې چې نارینه وو ته اجازه ورکړل شوه چې کار ته دوام ورکړي. د بندیز لاملونه نه وو وړاندې شوي. په همدې ډول د نومبر په ۲۲ نېټه، بلخ ولایت کې، برحاله چارواکو اړوند د برق فابریکې ۲۰۰ ښځینه کارمندانې وېل کېږي چې د مالي ستونزو له امله منفک کړې، تر اوسه هیڅ نارینه کارمند د ورته عمل سره مخ شوی نه دی.د ډسمبر په لومړیو کې، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست منسوبینو په یوه روغتیایي مرکز کې یوې ښځینه غیر متاهلې کارمندې ته[۶] توصیه وکړه چې واده وکړي یا به د وظیفې له لاسه ورکولو له خطر سره مخ شي، او دا یې په ډاګه کړه چې د نا واده ښځو لپاره کار کول مناسب نه دي.

د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د تطبیق په چارو کې کله نا کله خپلسرې نیونې او توقیفونه شامل دي. د نومبر پر ۲۷ نېټه، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارمندانو[۷] دوه ښځې د امیندوارۍ د مخنیوي درملو د پیردلو له امله ونیولې. دغه ښځې له هغې وروسته خوشې شوې کله چې یې کورنیو لیکلی تضمین لاسلیک کړ چې دغه کار به په راتلونکې کې نه تکراروي.

د مختلفو فرمانونو تداخل د ښځو او نجونو پر حقونو محدودونکی اغیز لري، ځینې وختونه پرته له دې چې کوم څرګند بندیز لګول شوی وي. د مثال په ډول، د ښځو پر کار کوم عمومي بندیز نشته، ځرنګه چې له پورتنیو مثالونو څرګندیږي چې د محرم شرط د ښځو د کار پر حق محدودونکی اغیز لري، که چیرې دوی کوم نارینه خپلوان ونه لری چې د دوی ملتیا وکړي.

## د حجاب فرمان تطبیقول

د ډسمبر پر ۳۱ نېټه د کابل ښار په مشخصو ساحو کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارمندانو له برحاله پولیسو سره په همکارۍ د ۲۰۲۲ کال د اپریل د ۲۵ نېټې د حجاب فرمان[۸] د تطبیق لپاره اقدامات وکړل، چې د ګڼ شمېر هغو ښځو او نجونو چې "د مناسب حجاب په نه اغوستلو" تورنې وې، خپلسرې نیونې او توقیفونې او شفاهي اخطارونه شامل وو.

برحاله چارواکو د کابل په لویدیځ، دشت برچی سیمه کی چې ډیرئ هزاره ګان په کی اوسیږي، ښځې او نجونې نیولې دي او یو څه یې خیر خانې سیمه کې چې ډیری اوسیدونکي یې تاجک توکمه او د پنجشیر دي،نیولې دي. زیاتره هغه ښځې چې تر اوسه بندیانې شوي د څو ساعتونو وروسته او د محرم له خوا په راتلونکې کې د ښځینه خپلوانو له خوا د حجاب د فرمان د مراعاتولو تضمین تر لاسلیکولو وروسته خوشې شوي. یوناما د ناوړه چلند، د اوږدو مودو لپاره توقیفول، یې ارتباطه توقیف او د خوشې کیدو په بدل کې د پیسو د غوښتنې د ځینو ادعا شوو مواردو پلټنه کوي. فزیکي تاوتریخوالي سره د پلې کولو اقدامات د افغان ښځو او نجونو دپاره په ځانګړې توګه خطرناک او سپکاوی دئ، دغه عمل پیغور او بدنامي لري چې دوي آن د ستر خطر سره مخ کوي.

د برحاله چارواکو له خوا ترسره شوي اقدامات پخپله د حجاب له فرمان سره په ټکر کې ګڼل کیږي کوم چې د تطبیق لپاره راتلونکي مرحلې مشخصوي: د فرمان څخه لومړۍ سرغړونې په صورت کې د شخص محرم ته یوه اخطاریه ورکول کیږي(د اوسیدو په سیمه کې)؛ د دویمې سرغړونې په صورت د شخص محرم احضاریږي؛ د دریمې سرغړونې په صورت کې د شخص محرم ښایي تر دریو ورځو پورې بندي شي؛ د څلورمې سرغړونې په صورت، د شخص محرم برحاله محکمې ته د نورو اقداماتو لپاره ورپیژندل کیږي.

پورتني یاد شوي اقدامات د راپور د خپریدو تر وخته د برحاله چارواکو له خوا جاري ساتل شوي دي.

[۶] موقعیت د محافظتي دلایلو له امله پټ ساتل شوی.
[۷] موقعیت د محافظتي دلایلو له امله پټ ساتل شوی.
[۸] دلته د لاس رسي وړ دی: https://mopvpe.gov.af/ps/%DA%A9%DA%93%D9%86%D9%84%D8%A7%D8%B1%D9%87.

## د هزاره ګانو په ضد هدفي بریدونه

په اکتوبر او نومبر میاشتو کې دریو د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونو د شیعه-هزاره توکمه ټولنه په نښه کړې. د اکتوبر پر ۱۳ نېټه په پلخمري ښار کې یوه ځانمرګي بریدګر له چاودیدونکو توکو ډک واسکټ د هزاره عبادت کوونکو په منځ کی په یوه جومات کې وچوه چې ۲۱ کسان یې ووژل او ۳۰ نور یې ټپیان کړل. د اکتوبر پر ۲۶ نېټه د کابل په لویدیځ دشت برچي[۹] کې په یوه سپورټ کلپ کې د ننه په لاس جوړ شوي چاودیدونکو توکو چاودنې اته کسان ووژل او ۳۵ نور یې ټپیان کړل. د نومبر پر ۷ نېټه بیا هم د کابل په دشت برچي سیمه کې یوې چاودنې یو مسافر وړونکی بس په نښه کړ چې ۱۱ کسان یې ووژل او ۲۱ نور یې ټپیان کړل. د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې د دریو واړو پېښو مسوولیت پر غاړه واخیست، چې دا یې په ډاګه کوله چې د شیعه مذهبه ټولنې غړي یې هدف وو.

سربېره پر دې، په اکتوبر، نومبر او ډسمبر کې د هرات ولایت په جبرائیل سیمه کې د یو شمېر شیعه روحانیونو هدفي وژنې ترسره شوې. د اکتوبر پر ۲۲ نېټه یو شیعه مذهبه روحاني په ډزو ووژل شو؛ د نومبر پر ۲۳ نېټه دوه شیعه روحانیون په ډزو ووژل شول؛ او د ډسمبر پر ۱ نېټه شپږ کسان (د دوه شیعه روحانیونو په ګډون) ووژل شول او دوه نور داسې مهال ژوبل شول کله چې نا معلومو وسله والو پر هغې رکشا ډزې وکړې په کومه کې چې روحانیونو سفر کاوه. د دغو پېښو مسؤولیت هیچا پر غاړه نه دی اخیستی او مرتکبین یې نامعلوم دي.

## ناچاوده چاودیدونکي توکي

د اکتوبر او ډسمبر ترمنځ ناچاوده چاودیدونکو مهماتو لږ تر لږه ۱۱ کسان وژلي او ۵۱ نور یې ټپیان کړي. د قربانیانو ترمنځ ۱۳ لویان (درې سړي، لس ښځې) او ۴۹ ماشومان (۴۱ هلکان، اته نجونې) شامل دي. د ډسمبر پر ۲۲ نېټه په یوه پېښه کې د کونړ ولایت په پیچ دره ولسوالۍ کې د یوې کورنۍ اووه غړي (درې لویان، څلور ماشومان) وروسته له هغې ټپیان شول کله چې ماشومانو له پیدا کړو چاودیدونکو توکو سره لوبې کولې او وچاودیدل. د پېښې تر ټولو ځوان قرباني اووه کلن هلک وو.

## له پاکستان څخه د افغانانو اجباري را ایستنه

د اکتوبر پر ۳ نېټه، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر اعلان وکړ چې ټول هغه کډوال چې په پاکستان کې له قانوني اسنادو پرته اوسیږي د ۲۸ ورځو په دننه کې پخپله خوښه دې هیواد پرېږدي، یا به اجباري ایستنې سره مخ شي. په داسې حال کې چې په دغې خبرتیا کې په څرګند ډول نه ده یاده شوې خو دغه کار په اساسي ډول افغانان اغیزمنوي. د سپتمبر د ۱۵ او ډسمبر د۳۱ نېټې ترمنځ ۴۹۰،۸۹۱ افغانان له پاکستان څخه خپل هیواد ته ستانه شوي. د کال په پای کې هیواد ته د راستنیدونکو افغانانو شمېر کې د پام وړ کموالی راغلی.[۱۰] د نومبر پر ۱۵ نېټه، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر یوه اعلامیه خپره کړه چې له پاکستان څخه د افغانانو د خپلسرې ایستنې د راپورونو په اړه یې اندېښنه څرګندوله، کوم څه چې د ناوړه چلند، خپلسرو نیونو او توقیفونو، د شتمنیو او شخصي ملکیتونو د تخریب او ضبط په ګډون د تیریو له مواردو سره مله وه.[۱۱] برحاله چارواکو په مکرر ډول پر پاکستاني چارواکو غږ کړی چې په زور افغان کډوال را و نه باسي یا ور سره ناوړه چلند و نه کړي.[۱۲] د نومبر پر ۲۵ د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د هیواد په کچه د یوې کمېټې د تاسیس اعلان وکړ چې د پاکستان له خوا د رایستل شویو افغانانو د ملکیت انتقال تسهیل کړي، دا کمیټه د ولایاتو په کچه هم رامنځته شوې.[۱۳] د بشري مرستو د بنسټونو او برحاله چارواکو یو کنسرسیوم د مرستې په برابرولو کې په موثره توګه سره همکاري کوي. برحاله چارواکو د منابعو له نشتون سره سره ستر شمېر راستانه شویو افغانانو ته د عبوري نقطې او دغه راز په ولسوالۍ/ولایت کې د هغوي نهایي منزل ته تر رسیدو پورې، په مسلکي ډول ځواب ویلی.

[۹] دشت برچي د کابل هغه سیمه ده چیرې چې زیاتره هزاره په کی میشت دي.
[۱۰] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري/د کډوالۍ د نړیوال سازمان ۱۲ شمېره تازه راپور: نیونه او توقیف/د راتګ څارنه (۱۵ سپتمبر – ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۳) دلته د لاس رسي وړ دي: https://reliefweb.int/report/pakistan/unhcr-iom-pakistan-flash-update-12-arrest-and-detentionflow-monitoring-15-september-31-december-2023.
[۱۱] د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، ترک د هغو افغانانو په وړاندې چې د پاکستان پرېښودو ته اړه شوي د بشري حقونو د نقض راپورونو اندېښمن کړی، ۱۵ نومبر ۲۰۲۳. دلته د لاس رسي وړ ده: دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.ohchr.org/en/press-releases/2023/11/turk-alarmed-reports-human-rights-abuses-against-afghans-forced-leave#:~:text=The%20UN%20High%20Commissioner%20for,abuse%20by%20law%20enforcement%20officers
[۱۲] د مثال په ډول وګورئ:
https://x.com/MoRRAfg/status/1729505839164043529?s=20;
https://x.com/TOLOnews/status/1736668098139242761?s=20;
https://x.com/aamajnews_24/status/1719438467665453147?s=20.
[۱۳] Committee to Transfer Property of Afghans Deported From Pakistan Formed | TOLOnews

ځینې افغانان، په ځانګړي ډول د رسنیو کارمندان، د مدني ټولنې فعالین، د ښځو د حقونو مدافعین او د تیر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي چې رایستنې ته اړ شوي شايي د عدلي تعقیب، خپلسرې نیونې او توقیف او/یا د شکنجې یا ناوړه چلند له خطر سره مخ وي. د ډسمبر پر ۱۰ په تخار ولایت کې د ملي امنیت د ریاست پخواني کارمند او د هغه ښځه په خپل کور کې په ډزو ووژل شول، د راپورونو له مخې د هغه شخص د خپلوانو له خوا څوک چې د ملي امنیت د ریاست د پخواني کارمند له خوا پر هیواد د طالبانو تر ولکې مخکې وژل شوی و. دغه قرباني واک ته د طالبانو له بېرته راتګ وروسته پاکستان ته کډوال شوی و خو افغانستان ته د نا قانونه کډوالو په اړه د پاکستان له خبرتیا وروسته ستون شوی و. هغه په تخار کې خپل کلی ته تر ستنیدنې دوه ورځې وروسته ووژل شو.

## د تیر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني غړي

د یوناما د بشر حقونو څانګې د تیر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو صحرایي وژنې، خپلسرې نیونې او توقیفونې، شکنجه او ناوړه چلند ثبتول جاري ساتلي. دغه پېښې د برحاله چارواکو له خوا افغانستان د بېرته نیولو پرمهال د عمومي بخښنې اعلان سره سره رامنځ ته کیږي.[۱۴] د مثال په ډول د اکتوبر پر ۲۰ نېټه په بدخشان کې نا معلومو وسله والو د سیمه ییزو پولیسو یو آفسر او د هغه زوي په ډزو ووژل. د نومبر پر ۲۱ نېټه په جلال آباد کې، یو پخوانی څارنوال او د هغه د خور مړه جسدونه د کابل او جلال آباد ترمنځ پر لویه لار پیدا شول.

برحاله چارواکي په دوامدار ډول عمومي بخښنې ته خپله ژمنتیا په ډاګه کوي. د ډسمبر پر ۳۱ نېټه برحاله دفاع وزارت د یوه مطبوعاتي کنفرانس پرمهال د طالبانو د مشر د عمومي بخښنې فرمان ته د برحاله امنیتي او دفاعي ځواکونو "بشپړ ژمنتوب" څرګند کړ. دوی په ډاګه کړه: "په تیرو ۱۲ میاشتو کې، موږ د بخښنې له فرمان څخه د سرغړونې هیڅ پېښه نه درلوده. په دې اړه چې کوم تبلیغات کیږي، سم نه دي. دغه کار یوازې زموږ په ټولنه کې د بې باورۍ د رامنځ ته کولو او د ځوانانو د بې لارې کولو لپاره ترسره کیږي. دغه قضیې زیاتره څېړل شوي او د شخصي دښمنیو په پایله کې رامنځ ته شوي او دوسیې یې په محکمو کې تر څېړنې لاندې دي."[۱۵]

## د بشري حقونو د مدافعینو او د رسینو د کارمندانو خپلسرې نیونې او توقیفونې

د راپور ورکولو په موده کې د بشري حقونو د مدافعینو او رسنیو د کارمندانو نیونې او توقیفونې، مجازات او ځینې خوشې کیدنې ترسره شوي.

د سپتمبر او نومبر ترمنځ، برحاله د استخباراتو لوي ریاست څلور د ښځو د حقونو فعالینې نیولې: ندا پرواني (د سپتمبر پر ۱۹ نیول شوې، د ډسمبر پر ۱۳ خوشې شوې)، ژولیا پارسي (د سپتمبر پر ۲۷ نیول شوې، د ډسمبر پر ۱۸ خوشې شوې)، منیژه صدیقي (د اکتوبر پر ۸ نیول شوې) او پریسا آزاده (د نومبر پر ۱۵ نیول شوې، د ډسمبر پر ۲۵ خوشې شوې). دوه ښځې، ندا پرواني او ژولیا پارسي له خپلو نارینه خپلوانو سره نیول شوی او توقیف شوي وې. د دغه راپور تر لیکلو پورې، آغلې صدیقي په کابل کې په توقیف کې وه.

د اکتوبر پر ۷ نېټه په دایکندي ولایت کې برحاله د استخباراتو لوي ریاست د نسیم راډیو درې کارمندان د بشري مرستو په انحراف کې د دایکندي د برحاله والي د ښکیلتیا په اړه د راپور چمتو کولو په تور ونیول. د اکتوبر پر ۱۷ نېټه له دریو هغو یې دوه له کوم تور پرته خوشې شول. د ډسمبر پر ۱۱ نېټه په دایکندي ولایت کې برحاله ابتدائیه محکمې د نومړي راډیو رئیس د برحاله چارواکو پر ضد په فعالیتونو کې د دخیلیدو په تور په یوه کال بند محکوم کړ.

د اکتوبر پر ۱۸ نېټه ژورنالیست مرتضی بهبودي د پلچرخي له زندان څخه خوشې شو، څوک چې برحاله د استخباراتو د لوي ریاست د کارمندانو له خوا د جنوري پر ۷ نېټه نیول شوی و. همدارنګه د اکتوبر پر ۲۶ نېټه مطیع الله ویسا په لوړه کچه د نجونو د زده کړو مدافع او د قلم لارې نادولتي موسسې رئیس د پلچرخي له زندان څخه خوشې شو، (چې برحاله د استخباراتو د لوي ریاست د کارمندانو له خوا د مارچ پر ۲۷ نېټه نیول شوی و).

[۱۴] د عمومي بخښنې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د یوناما د بشري حقونو راپور وګورئ: د سولې په وړاندې خنډونه: په افغانستان کی د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو پر ضد د بشري حقونو سرغړونې. دلته د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/file/21263/download?token=5d994Qe.
[۱۵] برحاله د امنیتي او تصفیوي چارو کمیسیون مطبوعاتي کنفرانس (د برحاله دفاع وزیر وینا)، ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۳. دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.youtube.com/watch?v=xzX_sZTk0Gg.

د اکتوبر پر ۳۰ نېټه په کابل کې برحاله سترې محکمې د پوهنتون استاد او مدني فعال رسول پارسي د "اسلام د سپيڅلو اصولو او ارزښتنو د سپکاوي" په تور په ۱۶ مياشتي بند محکوم کړ. ښاغلی پارسي د برحاله استخباراتو د لوي رياست د کارمندانو له خوا د مارچ پر ۶ نېټه نيول شوی و.

## د بيان آزادي

برحاله چارواکو، عامو خلکو ته د معلوماتو د لېږد، ترلاسه کولو او لېږد د فرصت په محدودولو سره د بيان د آزادۍ د حق نقضول جاري ساتلي. د ډسمبر پر ۱۴ نېټه، برحاله د لوړو زده کړو وزارت يو مکتوب خپور کړ چې ټولو پوهنتونونو او خصوصي تعليمي ادارو ته لارښوونه کوي چې له خپلو کتابتونونو ټول هغه کتابونه لرې کړي کوم چې د حنفي فقهي خلاف ګڼل کېږي. په دې کې هغه کتابونه شامل دي چې د شيعه عقيدې، سياسي ګوندونو او د هغو افرادو له خوا ليکل شوي چې له تير رژيم سره تړلي.

## برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت فعاليتونه

پر هغو فعاليتونو سربېره چې د "ښځو او نجونو د حقونو" په برخه کې يې يادونه وشوه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د د نورو لارښوونو رعايت او تطبيق د نظارتي ليدنو په ترسره کولو او چيک پاينټونو د جوړولو له لارې ځاري (لکه د نارينه د ږيرې اوږدوالی، د موسيقي منع کول، او په کار ځای کې د ښځو او نارينوو جدا کول). پر دې سربېره د ډسمبر پر ۲۴ نېټه يې اعلان وکړ چې د يلدا شپې (ژمنۍ بدلون) لمانځل منع دي[۱۶] ځکه چې نا اسلامي عمل ګڼل کيږي.

د نومبر پر ۸ نېټه، د شکايتونو د اوريدلو قانون د طالبانو د مشر له خوا تصويب شو.[۱۷] دغه نوی قانون د برحاله چارواکو د غړو پر ضد د شکايتونو د اوريدلو په اړه د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت دندې او مسؤوليتونه معرفي کوي.

قانون په ډاګه کوي چې اماراتي اداري د محکمو په ګډون مکلفې دي چې برحاله د امربالعمروف او نهي عن المنکر وزارت له غوښتنې سره سم د شکايتونو د رسيدګي په برخه کې پوښتنو ته ځواب ووايي.[۱۸] نوموړی قانون همدارنګه صراحت لري چې جدي شکايتونه يا هغه چې وزارت يې پر حل کولو و نه توانيږي کيدای شي چې برحاله وزارت يې په مستقيم ډول د طالبانو مشر ته راپور کړي.[۱۹]

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون مسوده د تصويب په پار د طالبانو مشر ته ليږدول شوې. که چيرې دغه قانون تصويب شي، قانون د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او د هغه ولايتي او ولسوالۍ د کچې محتسبينو لپاره د توقيف صلاحيت (تر دريو ورځو پورې) تعريف کوي. د نوموړي قانون مسوده دغه راز برحاله وزارت ته د دې صلاحيت ورکوي چې په پراخه کچه د مختلفو موضوعاتو په اړه نظارت ترسره کړي لکه د محکمو د پريکړو د نه تطبيق په اړه پوښتنې ګرويګنې، د قضايي او حقوقي اجراآتو کې د خپلواکۍ پر ضد شکايتونه چې د طالبانو د مشر له خوا په ټاکل شوې موده کې نه وي حل شوي.

## بدني سزا

برحاله چارواکو په عامه ځايونو کې د بدني سزاګانو تطبيق جاري ساتلی، دغه سزاګانې او هغه جرمونه د کومو لپاره چې سزا تطبيق شوې معمولا پر خواله رسنيو اعلانوي. له دې سره سره، د سزاګانو د تطبيق ننداره چيان د سزاګانو له ثبتولو يا عکس اخيستلو څخه منع شوي. د مثال په ډول، د نومبر پر ۱۰ نېټه د نيمروز ولايت په زرنج ښار کې، ۲۵ سړي د سپورت په مرکزي سټېډيوم کې په عام محضر کې په دورو ووهل شول. دغه کسان د غلا او زنا په ګډون د مختلفو جرمونو له امله د برحاله ښاري محکمې له خوا محاکمه شوي او هر يو يې له يوې نيولې تر ۵۰ دورو وهل شوي. يو شمير نندارچيان چې د سزا د ثبتولو او عکس اخيستلو په تور په ګوته شوي وو، هغوي هم په دورو وهل شوي.

[۱۶] https://twitter.com/MOPVPE1/status/1738801869202293029.
[۱۷] د شکايتونو اوريدلو قانون (۸ نومبر ۲۰۲۳). دلته د لاس رسي وړ دی: https://mopvpe.gov.af/dr/media/16
[۱۸] ۴ ماده، د شکايتونو اوريدلو قانون (۸ نومبر ۲۰۲۳).
[۱۹] ۱۰ (۲)، ۱۱ (۲)، ۱۴ (۳)، ۱۷، او ۱۸ مادې، د شکايتونو اوريدلو قانون (۸ نومبر ۲۰۲۳).

## عدلي اجراآت

د اکتوبر، نومبر او ډسمبر په اوږدو کې مختلفو برحاله وزارتونو د عدلي اجراآتو په اړه خبرتیاوې خپرې کړې:

- د اکتوبر پر ۲۲ نېټه، برحاله د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې په تېرو شپږو میاشتو کې، د نوموړي وزارت د داخلي امنیت پولیسو د رشوت اخیستلو، له واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې، د نا قانونه وسلو ګرځولو او د دولتي وسایلو د اختلاس په تور ۴۴۹ تنه برحاله د پولیسو منسوبین نیولي دي.[۲۰]

- برحاله د عدلیې وزارت د حقوقي مساعدتونو آمریتونو په کاپیسا او پروان ولایتونو کې برحاله پولیسو، امنیتي او د زندانونو له منسوبینو، او همدارنګه یو منځني ښوونځی ته د بندیانو د حقونو، د مدافع وکیلانو د نقش، او پولیسو د مسوولیتونو په اړه د پوهاوي د لوړولو د هڅو راپور ورکړی.[۲۱]
- د ډسمبر پر ۲۷ نېټه، برحاله د عدلیې وزارت د رهبري شورا د حقوقي مساعدتونو د ریاست تعدیل شوی طرز العمل له ځینو تعدیلاتو سره تصویب کړ.[۲۲] په داسې حال کې چې په زندانونو کې د موجوده افرادو لپاره حقوقي مرستې ته لاس رسي تر دې دمه د هیواد په کچه محدودې دی، د ډسمبر پر ۱۷ نېټه، د بغلان برحاله د عدلیې ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست کارمندانو د بغلان د ماشومانو د اصلاح او روزنې ریاست لپاره د مدافع وکیل د ګمارلو خبر ورکړی څو حقوقي مرستو ته د ماشومانو لاس رسی غښتلی کړي؛ او د کار او ټولنیزو چارو د ریاست له استازو څخه جوړ یو کمیسیون به په منظم ډول د پولیسو له ریاستونو او محکمو له دفترونو سره د ماشومانو قضیې تعقیبوي او د اړوندو  چارواکو او نا دولتي مؤسسو ترمنځ به همکاري ډاډمنوي.
- یوناما مستند کړي چې لږ تر لږه دوه محکمې هغه نوې عریضې ګوري چې د جمهوریت د وخت د محکمو له خوا د طلاق ورکړل شوې قضیې ننګوي. په دوه قضیو کې، د راپورونو له مخې دوه برحاله محکمو د پخوانیو ورکړل شویو طلاقونو اعتبار تائید کړی خو ښځو ته یې امر کړی چې شکایت کوونکي (پخواني مېړه) ته تاوان ورکړي.

- برحاله ستري محکمه په ښکاره د بندیانو د پاتې دوسیو د پروسس کولو لپاره د خپلو هڅو یادونه کوي، چې د برحاله ستري محکمې او استیناف محکمې پلاوي په منظمه توګه له ولایتي زندانونو څخه لیدنه کوي ترڅو له بندیانو سره خبرې وکړي، د دوی دوسیې وګوري، او له برحاله د زندان چارواکو سره اړیکه ونیسي.

- برحاله د دفاع وزیر یو ځل بیا د ډسمبر پر ۳۱ نېټه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د طالبانو د مشر فرمانونو ته د خپلو ژمنو یادونه وکړه او په ډاګه یې کړه چې: "هیڅ خپلسرې نیونې نه دي ترسره شوي او نه کوم ناقانونه زندان شته، [...] د شکمنو شکنجه او تعذیب، او د محکمې له امر پرته له مشخص شوې مودې څخه د اوږدې مودې لپاره په توقیف کې د هغوی ساتل مطلقا منع دي." هغوی دغه راز په ډاګه کړه چې په تیر کال کې په "لسګونو" هغه سرغړونکي چې دغه فرمان یې نقض کړی، نیول شوي او ځانګړې اداري لکه نظامي محکمې او د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوي ریاست د دغه ډول قضیو د څېړلو او مرتکبینو د مجازاتو لپاره جوړې شوي. همدارنګه د دې راپور ورکړل شو چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې محاکمو ۴۲۶۱ هغه قضیې حل کړي په کومو کې چې برحاله نظامي منسوبین شامل دي.[۲۳] په هغو قضیو کې چې برحاله نظامی منسوبین شامل دي د ادعا شویو جرمونو یا د قضایي پایلو په اړه معلومات نشته.

[۲۰] https://x.com/moiafghanistan/status/1716047998772302324?s=20.
[۲۱] د مثال په ډول، وګورئ: https://x.com/MojAfghanistan/status/1718930379543916679?s=20.
https://x.com/MojAfghanistan/status/1723644354441437359?s=20;
https://x.com/MojAfghanistan/status/1739949262895472997?s=20.
[۲۲] https://twitter.com/MojAfghanistan/status/1739961815532978509?s=20.
[۲۳] د برحاله امنیتي او تصفیوي کمیسیون مطبوعاتي کنفرانس (د برحاله دفاع وزیر وینا). د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر ۳۱مه. دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.youtube.com/watch?v=xzX_sZTk0Gg.